South East London
Integrated Care System

NHS
South East London

# په سوېلي لندن کې د شري
# قضيې د ډېرېدو په حال کې دي

## خپل ماشوم اوس د راتلونکي
## لپاره د شري پر وړاندې وساتئ



ما سکن کړئ

نور معلومات دلته ومومئ

**www.nhs.uk/measles**

# شری په اسانۍ سره خپرېږي. د MMR (شری، اوریون او روبیلا) واکسین تر ټولو غوره احتمالي خوندیتوب را منځته کوي.

## د شري نښې نښانې

شری د زوکام په څېر نښو نښانو سره پیلېږي او ورپسې دانې را پورته کېږي. د ځینو خلکو په خوله کې هم کېدای شي کوچنۍ لکې پیدا شي. دا ځینې وخت د لویو ستونزو لامل کېدای شي لکه ړندېدل، سینه بغل، منژیت او سېپسېس – چې ژوند ته جدي ګواښ پېښوي.



**د شري دانې څنګه ښکاري**

د شري د نښو نښانو په اړه معلومات او که چېرته تاسو فکر کوئ چې تاسو یا ستاسو ماشوم شری لري، نو باید څه وکړئ، په دې اړه هم معلومات دلته ومومئ:
**www.nhs.uk/measles**

## زه باید خپل ماشوم کله واکسین کړم؟

د MMR واکسین د NHS د ماشومتوب دورې د واکسیناسیون د معمول پروګرام یوه برخه ده – لومړی ډوز په یو کلنۍ کې او دویم ډوز په 18 میاشتنۍ کې ورکول کېږي.

د بشپړ خوندیتوب لپاره د MMR واکسین دوه ډوزونو ته اړتیا ده. د له لاسه وتلو ډوزونو د جبران لپاره هېڅکله ناوخته نه دی.

## د MMR واکسین خوندي دی؟

د MMR واکسین خوندي دی او د 1980 مو کلونو له لومړیو څخه را هیسې کارول کېږي.

د MMR واکسین او اوتېزم تر منځ کومه اړیکه نشته. ډېرو څېړنو دا ښودلې ده.

## ایا د MMR واکسین کوم جانبي عوارض لري؟

د نورو ټولو درملو په څېر، کېدای شي د MMR واکسین ځینې جانبي عوارض ولري. ډېری جانبي عوارض خفیف دي لکه د تزریق په ځای کې د درد حس کول یا ستاسو ماشوم د یو څو ورځو لپاره د ناجوړۍ احساس وکړي او یو څه لوړه تبه ولري.

شواهد ښيي چې واکسین کول د نه کولو په پرتله ډېر خوندي دي.

## ایا د MMR په واکسین کې جېلاټین (د خوکانو) موجود دي؟

موږ په انګلستان کې د MMR دوه واکسینونه لرو چې ډېر ښه کار کوي. په یوه کې د خوکانو جېلاټین موجود دي او په بل کې یې نشته. که تاسو له جېلاټین پرته واکسین غواړئ، نو د لیدنې د ریزرف کولو پر مهال خپل عمومي معالج ته ووایاست.

## زه د خپل ماشوم لپاره واکسین له کوم ځایه ترلاسه کولای شم؟

د خپل عمومي معالج معاینه خونې ته زنګ ووهئ تر څو یوه لیدنه ریزرف کړئ. موږ همدارنګه کلینیکونه ساتو په:

